# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ (پنجشنبه) د لړم ۱۵ - ۱٦مه ګڼه، پرله پسې (۴۵۵-۴۵٦) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ل کال د لړم ۳۰مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د جمادي الاول ۲۹ مه او د ۲۰۲۵م.کال د نومبر۲۰مه




**خطايي، بې وفايي زما له خوا ده**
**ته پر عدل برابر يې زما ربه!**

**اميدوار دې د کرم بهايي جان دی**
**رهنما هم ته رهبر يې زما ربه!**

**بهايي جان صاحبزاده**

څېړندوی محمد اتل انګار

# جغرافيايي ژبپوهنه

# (Geolinguistics)

ژبپوهنه هغــــــه علم دی چې د ژبې داخلي جوړښت څېړي يا »ژبپوهنه د ژبې څېړلو او مطالعه کولو پوهنه ده، مرژواندې او په راتلونکي کې پيداکېدونکي ژبې وربانديې څېړل کيږي.« (لودين، ۱۳۹۵ : ۷مخ) يا په بله وينا: »هغه علم چې ژبه، د هغې څرنګوالی او داسې نورې راز راز ژبنۍ مسئلې څېړي، ژبپوهنه بلل کيږي. د ژبپوهنې نړيوال نوم لينګوستيک (Linguistic) دی چې لينګوه (Lingua) د ژبې او استيکه (Istica) د پوهنې معنا لري. ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبو جوړښت او ځانګړتياوې د معاصرو ميتودونو پر اساس په يوې ټاکلې مرحله کې مطالعه کوي. «(غوربندی، ۱۳۹۷ : ۳۳مخ) ژبپوهنې ته ډاکټر سمندر يوسفزی ساينسي مطالعه وايي: »د ژبپوهنې غرض او مقصد د ژبې ساينسي مطالعه کول وي، ساينسي مطالعه ورته ځکه وايي چې انساني ژبه چې څنګه ده چې هم هغسې مطالعه شي او د مختلفو اړخونو يې په بشپړه توګه احاطه وشي، د هر قسمه احساساتو، جذباتو او خوښې نا خوښې نه پکښې ډډه وشي، انساني ژبه هم هغسې مطالعه شي لکه څنګه چې د ساينس په ميدان کې مختلف څيزونه تجزيه کيږي. «(يوسفزی، ۲۰۲۲ : ۳۷ مخ) د ډاکټر رفيع الله نيازي په قول: »ژبپوهنه هغه پوهه ده چې د معاصرو علومو او روشونو پر بنسټ د ژبې ماهيت او څرنګوالی څېړي او د بېلابېلو ژبو کورنۍ چې په خپلو کې اړيکې سره لري، د هغوی تاريخي بدلونونه او ډلبندۍ يې څېړي. «(کابل مجله، ۱۳۹۴ : ٦ګڼه، ٦۰ مخ)

له دې ټولو پېژندنو څخه دا پايله په لاس راځي چې ژبپوهنه د ژبې داخلي جوړښت، ځانګړنې، راز راز ژبني مسايل، د ژبې ماهيت او څرنګوالی د معاصرو علومو او روشونو پر بنسټ څېړي. ژبپوهنه په لويه کې دوه برخې لري چې يوې ته يې تطبيقي ژبپوهنه (Applied Linguistics) او بـــــــــــــــلې ته يې نظري ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) وايي. دا چې روانپوهنيزه ژبپوهنه د تطبيقي ژبپوهنې له څانګو څخه يوه څانګه ده نو اړينه ده چې تطبيقي ژبپوهنه هم څه نا څه وپېژنو.

ژبپوهان تطبيقي ژبپوهنې ته څو نومونه نور هم اخلي، يو خو يې په عموم کـــــــې ماکرو ژبپوهنه (Macro Linguistics) هم بولي او بيا دا ژبپوهنه د مستعملې ژبپوهنې په نوم هم يادېږي، دا ځکه چې په دې ډول ژبپوهنه کې ژبه په لويه پيمانه څېړل کيږي، يعنې دا کتل کيږي چې ژبه له خپل ذات څخه بهر له کومو علومو سره اړيکه لري، په دې اړه ډاکټر يوسفزی ليکي: »په ماکرو لينګوسټکس کې ژبه په لويه پيمانه کتلی کيږي، چې ژبه د خپل ذات نه بهر د کومو څيزونو علمونو سره علاقه لري، کوم چې په ژبه اثر غورځوي، لکه تاريخ، ټولنه، کلتور، نفسيات وغيره خو که موږ په مختصرو لفظونو کې خبره کوو نو چې په ژبه کې

۲مخ

پوهندوی دوکتور سيد اصغر هاشمي

# د پوهاند ناګار له يوه بيت زېږېدنه

موږ کوښښ کوو چې د پوهاند ناګار د يــــــوه بيت لنډه شرحه او تفسير د يوې ځانګړې نظريې پر بنسټ تر سره کړو. دغه نظريې ته په شعر او متن کې د مانا او مفهوم د زېږون (تولد/حمل) نظريه وايي، چــې په انګريزۍ کې د (Pregnant) په نوم يادېږي.

د متنيت د تيورۍ په پام کې نيولو سره د هر متن او شعر د ليکلو شاته يوه لويه مانا او مفهوم پروت وي، دغه مانا د انسان د لاشعور، ټولنــــــيز لاشعور، نړۍ ليد، تېر ـ ماضي، چاپېريال، وراثت او د داسې نورو خواوو سره اړيکه لري. د همدغو لاملونو پر بنسټ کولای شو، چې د يو شاعر فکر او نړۍ ليد يې له متن څخه ثابت کړو. د يو شاعر شعرونه، کلمات، ترکيبونه، سېمبولونه، منځپانګه او له داسې نورو خواوو څخه کولای شو چې د شاعر افکار څرګند کړو.

د انسان شخصيت، کـــــړه وړه، عقيده، ديني او مذهبي ليد، له پوهانو سره ملګرتيا، مطالعه او کله کله سياسي دريځ يې په شعرونو باندې اغېزې کوي، نو ځکه چاپېريال په شعر او شعر په چاپېريال دوه اړخيزې اړيکې لري او موږ نشو کولای، چې د يو شاعر شعرونه يې له شخصيت پرته تـــــــر بحث لاندې ونيسو. سره له دې چې د مرګ نويسنده په نظريه کې ويل کيږي، چې د يو شاعر د شعرونو په څېړنه کې بې طرفه پاتې کېدل اړينه موضوع ده او تاسو فکر وکړئ، چې ليکوال مړ شوی دی او يا هېڅ يې نه پېژنئ، خو د شعرونو د تحليل او تفسير لپاره د يو شاعر په شخصيت، کورنۍ او نورو خواوو پوهاوی اړين دی، نو ځکه د ناګار صاحب په شخصيت که د دې لپاره بحث کوو، چې د يو بيت په شرحه او تفسير کې راسره مرسته وکړي، نو دومره وايم چې استاد ناګار د يو صوفي او عارف په ډول د يو ښه انسان ډېرې ښې ځانګړنې لري او د عمل او وينا تر منځ يې د يووالي دا يوه بېلګه تاسو ته وړاندې کوم چې ديني او تصوفي مطالعاتو اغېزې يې په ژوند او شخصيت باندې پرتې دي.

استاد په علمي برخې کې ډېرې څېړنې او پنځونې تر سره کړې دي. څېړنيز کتابونه يې په بېلابېلو پوهنتونونو کې درسي او مرستندوی اثار دي او د پنځونو په برخه کې يې د شعرونو کليات د يادونې وړ دی. زه په دغه مقاله کې د ناګار يو بيت لنډه شرحه کوم او کوښښ کوم چې يوازې د يوې مقالې په کچه بحث پرې وکړو، که پراختيا ور ته ورکړل شي، يو کتاب پرې ليکل کېدلای شي.

کله چې د يو بيت او يا د يو نيم بيتي اړين توکي شرحه کوو او د هرې کلمې شاته هغه لاملونه پيدا کوو، چې ليکوال په خپل شعر او يا په نثر کې راوړي وي، دې ته په غربي ادبياتو کې (Pregnant) وايي. کله چې په يو بيت او په يو نيم بيتي کې ځينې داسې کلمې راوړل شوي وي، چې توضيح او تشريح ته اړتيا ولري. دغې کلمې له څو اړخيزو خواوو څخه څېړل کېدلای شي، چې د بېلګې په ډول د خوشحال خان ختک دستار نامه يو داسې اثر دی، چې ټول کتاب په حقيقت کې د يو بيت شرحه او توضيح ده، خو د پرګننټ (حمل) د نظريې يو ابتدايي هڅه ده، خو کله چې حمزه شينواري د خوشحال

۳مخ

څېړندوی محمد طاهر شرر

# عاطفه د شعر ساه ده

د ځانګړې پېښې او موضوع په وړاندې وجداني حالت ته عاطفه وايي چې په تجربه تر لاسه کيږي، او په انسانانو کې يو له بل نه توپير لري، په ښځو کې د نارينه په پرتله ډېره ده، خو هره قاعده ځانګړنې لري.

عقل او عاطفه د انسان په وجود کې دوه بشپړونکي اضداد دي، عقل په منطق او استدلال ولاړ دی، او په ټولو قضاياو کې په کره او سمه توګه پريکړه کوي، خو عاطفه په رڼو احساساتو، انعطاف او نرمښت ولاړه ده، عاطفه په نتيجه پرېکړه کوي له منطق او استدلال سره هېڅ کار نه لري، عاطفه هڅه کوي چې په بيړني ډول غريزه اشباع کړي، خو عقل د دغه کار له پاره اوږدمهاله وخت په نظر کې نيسي، د عقل صلابت عاطفه نرموي او د عاطفې جوش عقل سړوي او دواړه په انساني چارو نېغ په نيغه اغيز لري.

ځينې خلک په دې باور دي چې غښتلی فکر د عاطفې په نه شتون کې شونی دی، خو دا ناسم نظر دی، ځکه چې دواړه بشپړونکي اضداد دي، بلکې د عاطفې په شتون کې غښتلی فکر زيږي، نو همدغه ده چې د يوه ليکوال او شاعر د تخليق د پيل نکته هم بلل کيږي، کله چې د يوې موضوع په اړه د شاعر احساس”عاطفه” وبوږنيږي، د لفظونو او ترکيبونو په مرسته يې مخاطب ته وړاندې کوي، که چيرته شاعر په خپله دغه شعري تجربه کې چې ذاتي تجربه يې ده، ريښتونی وي نو عاطفه به يې هم ريښتونې او اغيزمنه وي او که چېرته خپله ذاتي تجربه موږ ته په سمه توګه انتقال نه کړي، نو عاطفه به يې دروغژنه وي.

خو په شعر کې پرعاطفه باندې د ريښتونې او دروغژنې غښتلې او کمزورې پرېکړه هم اسانه خبره نه ده او تر شا زر کيسې لري.

ويل کيږي چې د حجاج بن يوسف زوی وفات شو، نو له يو شاعر نه يې غوښتنه وکړه چې د زوی په اړه يې داسې وېرنه ووايي چې د خپل زوی په اړه يې ويلې وه، نو شاعر ورته وويل: “هغه څه چې زه يې د خپل زوی په اړه ويلو ته اړ کړی وم ستا د زوی په اړه يې په زړه کې نه لرم.”

همدغه عاطفه ده چې شاعر يې په خپل زوی باندې وېــــــــرنې ته اړ ويستی و او په خپله وېرنه کې دومره ريښتونی هم و چې د وخت امير ترې غوښتنه کوي چې د ده د زوی په اړه هم دغسې وېرنه ووايي.

لکه ومو ويل عاطفه په دروغو او رښتياو کار نه لري، ځکه د عقل کار دی نه د عاطفې ځکه چې:

”عقل مسلې د سود او زيان راټولوي“

او د ادب په دنيا کې” اکذبه اعذبه ” دی، چې څومره دروغژن وي دومره به خوږ وي، نو له همدې ځايه ويلی شو چې عاطفه په شعر کې اساسي توکی دی او له عاطفې پرته شعر لکه سوړ ديوال بې روحه شی دی، زموږ په اوسني بهير کې که يو شمير شاعران عاطفې ته ارزښت ورکوي، خو يو شمېر نور داسې شته دی چې تش په خيال ولاړ وي، کله چې په شعر کې کوم خيال له عاطفې بې برخې شي نو بيا وهم او خوب ته نيږدې شي او په مخاطب هيڅ ډول اغيز نه شي کولی، خو که په کوم شعر کې عاطفه ريښتونې وي او تخيل ونه لري بيا هم په مخاطب اغيز کوي، د پښتو ژبې معاصر شاعر درويش درانی وايي:

بيلتانه يم داسې حال ته رسولی
يار د بل درومې او زه ورپسې ژاړم

په دغه بيت کې هيڅ ډول تخيل نشته، خو بيا هم زموږ په حواسو نيغ په نيغه اغيز کوي او د دې لامل دا دی چې شاعر راسره خپله ذاتي تجربه چې د فردي عاطفې نه رازيږيدلې شريکه کړې ده، د شاعر عاطفه ريښتونې ده ځکه چې له ذاتي تجربې نه راټوکېدلې او په دې توانېدلی دی چې د لفظونو پرمټ يې په همغسې تازه ګۍ تر موږ راورسوي، درويش يو بل ځای وايي:

۳مخ

ل: پروفيسور سيال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون

# د مولانا بلخي د مثنوي پښتو ژباړې (۲) برخه

### (۲) د مولانا روم پښتو مثنوي

د پورتني اثر ويناوال وايي:

زه اکبر د مولانا رومي مريد يم
يو عاشق د پيروانو د توحيد يم

له نېکه مرغه په پښتني ټولنه کې د مولانا بلخي ډېر زيات مينان شتـه دي، يـو لـه دغـو نـه اروابښـاد عبدالاکبرخان اکبر دی چې له مولوي صالح محـمـد خان کندهاري وروسته يې د مثنوي درې دفـتره پـه پښتو نثر ژباړلي دي او دغه کړاوجن کار يې پـه اويا کلنۍ کې چې سترګې يې هم کمزورې شوې وې؛ پـه ښکلي انداز پای ته رسولی دی.

عبدالاکبرخان اکبر چې د پښتو لـه پـېژنـدل شـوو ليکوالو او شاعرانو څخه دی؛ د عبدالغفـارخـان پـه کورنۍ کې په (۱۹۰۰ز) ، د چارسدې، د «عمـرزيـو» په سيمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې، نومـوړي منځوی او لوړې زده کړې په خپـل کـلي کـې سرتـه ورسولې، ورپسې يې د پېښور په اسلاميه پوهـنـتـون کې نومليکنه وکړه، ده چې څنګه له سيـاسـت سره مينه درلوده؛ نو له همدې امله نوموړي پـه »۱۹۱۹ ز «کې خپلو زده کړو ته خـدای پـامـاني ورکـړه، پـه همدې وخت د انګلېسيانو حکمراني چلېده چـې پـه همدې اساس دغه سياسي او فرهنګـي شـخـصـيـت افغانستان ته ولېږدېد او له دې ځايه شوروي اتحـاد او ورپسې يو کال وروسته خپل هېواد تـه راسـتـون شو او د »اصلاح الافاغنه ټولنې «چې د يادې ټولـنـې مؤسس لوی سياستوال او نړيوال شخصيت

۲مخ

اروابښاد مولوي صالح محمدخان کندهاري پـه اويـا کلنۍ کې په کابل ښار کې له دې نړۍ وکوچېد، څـه وخت وروسته يې د ده خاورې شوی بدن کندهار تـه راوړ او د حضرت جي بابا ګور ته نږدې يې ښخ کـړ، روح يې ښاد.

ملک الشعراء استاد بېتاب کابلي د اروابښاد مولـوي صالح محمدخان کندهاري پـر مـرګ ډېـر دردنـاک بيتونه ويلي چې ځينې يې په دې ډول دي:

مولوي صالح محمد آن وکيل قندهار
خيرخواه شاه و ملت در نهان و آشکار

دوستدار حرف حق بود و نگفتی غير راست
از ملمع کاری و تلبيس بودی بر کنار
خدمت شايان نمودی در معارف سالها
گاه در کابل مديری داشت گه در قندهار
کرده در »عهد سراجيه «به پشتو خدمتی
اندرين مضمون نبوده کس چو او آموزگار

چون بهر کس او نکو کردار و صالح بوده است
هم بهر کاری که بوده با صداقت کرده کار

مولوي صاحب کندهاری د مثنوي يو عاشـق و او د دغه معنوي او ارزښتمن اثر په مطالبو ښه پوهېـده؛ د خپلې مطالعې مېوه يې بالاخره په »پښتو مثنوي « کې ثبت کړه او د پښتو، پارسي ادبياتو تاريخ تـه يـې يو بېل ښاپست وباښه.

## د مولانا بلخي د مثنوي پښتو...

خان عبدالغفارخان چې په باچاخان اوځار و؛ له لوري رئيس وټاکل شو، زموږ دغه نوموتی شخصيت په خپل ژوند څو ځل د زندان تورو تنبو ته اچول شوی دی، نوموړی نه يواځې دا چې يو باايمانه سياستوال او باوجدانه شخص و؛ بلکې د پښتو مخلص ليکوال او غوره شاعر و، ده په خپل ژوند څو پښتو کتابونه وليکل او خپاره کړل، دغه آثار: خواږه تراخه، خدايي خدمتګار، تربوره، نوی تعليم او نوی تهذيب، جونګړه، کاروان روان دی، پښتو مثنوي يې په پښتو معاصرو ادبياتو کې ډېر اوځارتوب لري، ښاغلي محمد نواز خان طاير يې ديارلس آثاره راپېژندلي دي.

عبدالاکبرخان اکبر د "مولیٰنای روم د پښتو مثنوي" په سريزه کې ليکي: ((زه د عربي او پارسي ژبې عالم نه يم؛ مګر د مطالعې ذوق يې لرم، په وړوکوالي کې مې په ښوونځي کې ګلستان، بوستان، يوسف زليخا او سکندرنامه لوستي وو)).

مګر دا ډېر د خوښۍ ځای دی چې ياد ليکوال د مثنوي ژباړه په ډېر ښه انداز په پښتو کړې ده، څنګه چې ده له ديني او عرفاني آثارو سره مينه درلوده؛ نو همدغه لامل دی چې نوموړي مثنوي له پارسي نه په پښتو وژباړله او هيله يې درلوده چې مثنوي به په بشپړ ډول وژباړي؛ مګر افسوس!! زړښت او روغتيايي حالت اجازه ور نه کړه چې مثنوي معنوي بشپړه وژباړي، بيا هم امکان لري چې يو څو دفتره يې ژباړلي وي او دې لوري کې ژوره پلټنه اړتيا لري.

هو!! عبدالاکبرخان اکبر د پښتو مثنوي دغه درې دفتره غورچاڼ شوې ژباړه په ډېر ښه انداز او ګرانو لوستونکو ته يې ښايسته ژباړه وړاندې کړې ده چې په دې اړه دی په خپلې سريزه کې داسې ليکي: ((څو کاله وړاندې د »آرينولډ اين نيکلسون Areynold Alleyne Necholson« د مثنوي انګليسي ژباړه لاسته راغله، ما له هغې نه يو څو نظمونه په پښتو نظم واړول؛ مګر بيا مې هم دا سوچ کاوه چې دغه وينا چې د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوې؛ ولې پښتو ته نه ژباړل کېږي؟ دا خو بيا زموږ پښتو عالمانو ته ډېره اړينه او ښه ده چې ويې ژباړي؛ ځکه چې د پښتنو عالمان په مثنوي تر نورو ښه پوهېږي، په ځانګړې توګه کله چې دوی يې د قرآن او حديثونو پر ځای په وعظونو کې په خواږه غږ لولي او اورېدو نکي يې اغېز پر ځان مني)).

عبدالاکبرخان اکبر د مثنوي ژباړه په »۱۹۷۷ ز «په زمې کې د »د مولیٰنای روم پښتو مثنوي «په نامه، په حميديه مطبعه پېښور کې چاپ کړې ده، »۴٦۴ «مخه ده، له دغه ارزښتمن کتابه ياد ژباړن څو منتخب حکايتونه او د نظم دوه دفتره راژباړلي دي، نوموړی د سريزې په وروستيو کې ليکي: ((که ژوندی وم؛ د نورو دفترونو ژباړه به هم خپره کړم، خدای جل جلاله دې ماته د اسلام او پښتنو د خدمت برى راکړي)).

ښکاره ده چې په تېرو زمانو د پښتنو په ټولنه د پارسي ژبې اغېز ډېر زيات ليدل کېږي، په ځانګړې توګه د پښتني عالمانو تر منځ، رښتيانی چې د پښتنو په فرهنګي ژوند کې پارسي ژبه زموږ له دين او ادبه نه پرېکېدونکې ده، په تېر وخت کې به چې زموږ واعظانو په منبر خپلې ويناوې کولې؛ نو د خپلو خبرو په پيل او منځ کې به يې د سعدي، حافظ او يا د مولوي شعرونه لوستل او خپلې خبرې به يې په پارسي شعرونو نورې هم خوږولې، کله به چې واعظانو او درنو عالمانو په ماجتونو (مسجدونو) کې د يادو شاعرانو او عارفانو شعرونه ويل؛ نو درانه ناست خلک به راويښ شول او له خوږو پارسي شعرونو به يې ډېر خوند اخيست او دا لړۍ تر اوسه په همدې شان روانه ده.

د مثنوي دغه منتخبه ژباړه مولانا عبدالقدوس قاسمي د پېښور پوهنتون د دنياتو استاد بشپړه راپېژندلې ده، فاضل استاد د عبدالاکبرخان اکبر د ژباړې په اړوند ډېرې ګټورې خبرې کړې دي، ورپسې د ژباړن سريزه راغلې ده، له دې وروسته ښاغلي نواز خان طاير د عبدالاکبرخان اکبر او د مثنوي د ژباړې په باره کې ګټورې خبرې ليکلې دي.

عبدالاکبرخان اکبر د مثنوي ژباړه په ډېرې ساده او روانه ژبه کړې او بيا يې پکې د پېښورۍ پښتو ګړنې کارولې دي، نوموړي د مولیٰنا بلخي د شعرونو د ژباړې او زبات د ښه روښانولو لپاره د مولانا عبدالرحمن جامي، سعدي شيرازي، علامه اقبال لاهوري او خپل پښتو شعرونه وړاندې کړي دي او په دې لاره (روش) کې ورسره مولانا عبدالقدوس قاسمي چې دی په عربي، پارسي او انګليسي ژبو ښه پوهېده؛ ډېره زياته مرسته کړې ده چې په همدې ډول پخپله ژباړن له ياد فاضل استاده ډېره زياته مننه کړې، رښتيانی چې عبدالاکبرخان اکبر د مثنوي په پښتو ژباړه کې بريالی شوی دی، په دې نړۍ کې چې تر کومه پښتو او پارسي ژبې ژوندۍ وي؛ عبدالاکبرخان اکبر به هم ژوندی پاتې وي او يادېږي به.

په اخره کې د »د مولانا روم پښتو مثنوي «کتاب څخه څو منثورې بېلګې ستاسې درانه خدمت ته وړاندې کېږي؛ البته په دې ژباړه کې نوموړي د پښتو اوسنی املا کارولې، مهرباني وکړئ! د عبدالاکبرخان اکبر پښتو ژباړه سمه وګورئ:

کز نيستان تا مرا ببريده اند
از نفيرم مرد و زن ناليده اند

**ترجمه:** د نلو د ځنګل نه چې يې زه راپرې کړی يم؛ زما د فرياد، واوېلا په وجه نر ښځې په ژړا دي؛ يعنې چې د عالم ارواح نه انسان را جدا شوی دی؛ مطمين نه دی، په ژړا سر دی، خپل مقام ته د رسېدو دپاره بې قراره دی.

هيچ چاره نيست و ز قوت عيال
از بن دندان کنم کسب حلال

**ترجمه:** ته دا هم وايې چې د بال بچ د روزۍ ګټلو بغير هم څه چاره نشته، په دا وجه زه په ډېره سختۍ حلاله روزي ګټم.

آن دو اُشتر آن يک اُشتر است
تنګ آمد لفظ معنا بس پر است

**ترجمه:** هغه اوښان چې مخکې ذکر شو؛ دوه نه دي؛ يو دی، د لفظونو لمن تنګه ده او معنا ډېره لويه، هغه څه رنګ په دې کې ځايېږي؟.

ګفت پيغمبر که آواز خدا
می رسد در ګوش من همچون صدا

**ترجمه:** پيغمبر (ص) وفرمايل چې د الله تعالی اواز زما غوږونو ته لکه د صدا په شان رارسي.

هر کرا جامه ز عشق پاک شد
او ز حرص و عيب کلی پاک شد

**ترجمه:** هر څوک چې د عشق حقيقي خاوندان شول؛ هغه د هر عيب نه پاک شول، هر هغه څوک چې په خدايي صفاتو کې رنګ شي؛ د الله تعالی سره يې مينه پيدا شي، هغه د هر قسم عيبونو، ګناهونو نه خلاص شي، اقبال وايي:

دين نه ګردد پخته بی آداب عشق
دين بګير از صحبت ارباب عشق

**ترجمه:** بې د عشق د ادابو نه دين نه شي کامليدی، پخېدی، د عشق د خاوندانو نه دين واخله.

آن خدای که فرستاد انبياء
نی بحاجت بل بل بفضل کبريا

**ترجمه:** هغه خدای چې انبيا راولېږل، د احتياج د مجبورۍ نه؛ بلکې د خپل فضل په وجه.

پند من بشنو که تن بند قويسيت
کهنه بيرون کن ګرت ميل نويسيت

**ترجمه:** زما نصيحت واوره چې وجود د روح دپاره يوه مضبوطه جلېخانه ده، که ته نوی روحاني ژوند غواړې؛ نو دا زوړ وباسه.

### (۳) د مثنوي معنوي پښتو ژباړه

د پښتو معاصرو ادبياتو لمن د نړۍ له بېلابېلو ژباړو څخه برخمنه ده چې پارسي ژبه هم ځينې شهکار آثار لکه د رحمان بابا او خوشحال خان خټک غوندې لري چې هم په نثر او هم په نظم ژباړل شوي دي، ارواښاد مولوي عبدالجبار د پښتو يو له هغو غوره شخصيتونو شمېرل کېږي چې له مولوي صالح محمدخان کندهاري وروسته دويم شاعر دی چې د محمدنواز طاير په وينا د مثنوي دوه دفتره يې په نظم ژباړلي دي، زموږ دغه فرهنګي شخصيت د (مولوي) او د (مثنوي) عاشق او مين و؛ بس مولوي عبدالجبار بوډا او کمزوری شوی و او و يې نه شو کړای چې د مثنوي شپږ دفتره نور په نظم سرته ورسوي؛ البته د پښتو ادبياتو تاريخ ته د ارواښاد مولوي عبدالجبار ژباړې ډېره ښکلا ښښلې ده، د پېښور پښتو اکاډمۍ د پخواني رئيس ښاغلي محمدنوازخان طاير په وينا د مولوي عبدالجبار د مثنوي د دوو دفترونو دغه ژباړه په ياده اکاډمۍ کې خوندي ده.

بيا هم زه دمګړۍ په دې اړه له دې زيات معلومات په لاس کې نه لرم؛ البته په دې باره کې به خپلې پلټنې او هڅې جاري ساتم، زه د پښتو اکاډمۍ له مسؤلينو په کلکه غوښتنه کوم چې د دغې مثنوي ژباړه چې ياد شاعر په پښتو نظم د شعر په چوکاټ کې اوډلې ده؛ په تېزۍ خپره کړي چې د پښتو د زده کړې پوهان او څېړونکي ورنه بشپړه ګټه واخلي.

بايد وويل شي چې د پښتو ټولې معاصرې تذکرې د ارواښاد مولوي عبدالجبار په باره کې چوپه خوله دي، د دغه ديني او فرهنګي شخصيت د حالاتو او آثارو شرح نوره ښکاره نه ده؛ البته ښاغلي محمدنوازخان طاير په خپلې ليکنې کې دی د (مروتو) د سيمې ګڼلی دی؛ مګر ارواښاد استاد پرېشان خټک د (رومي ګلدستې) په سريزه کې موږ ته دا رنګ معلومات راکوي: ((د مثنوي تر دربيم دفتر پورې لوی شاعر ارواښاد مولوي عبدالجبار چې د "ريېسان" اړوند د "هنګو" د سيمې دی؛ ژباړه کړې ده)).

پــــه همدې اساس زيارکښه څېړونکی ښاغلی زلمی هېوادمل په "فرهنګ زبان و ادبيات پښتو" کې د عبدالجبار په نامـــــه يو کس داسې راپېژندلی دی: ((عبدالجبار په پښتو نظم او ديني نثر کښه، د همدغې پېړۍ په پيل کې د پېښور پـــــــه شاوخوا سيمو کې يې استوګنـــــــه کړې ده، يو کتاب يې د "ګلشن وظايف" په نامه په نظم او نثر تأليف کړی دی)).

زموږ څېړونکي بايد د مـــــولوي عبدالجبار څېره ښه راوسپړي او د حالاتو او آثارو شرح يې بايد په بشپړ ډول راوپېژني، زمـــــوږ دغه ديني او فرهنګي شخصيت ډېرو پلټنو ته اړتيا لري چې نوی نسل د نوموړي له هنر او شخصيت سره بشپړه بلدتيا ومومي.

**(پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې)**

## جغرافيايي ژبپوهنه...

دننه څه هم وي هغه په مايکرو يعنې نظري ژبپوهنه کې راځي او کوم چې د ژبې نه بهر دي او د ژبې ورسره تعلق وي هغې ته ماکرو ژبپوهنه وايي. «(يوسفزی، ۲۰۲۲: ٦۴-٦۳ مخونه)

تطبيقي ژبپوهنه د ژبې له بهرنيو مسايلو سره کار لري. ډاکټر نيازی ليکي: »هغه مواد او معلومات چې نظري ژبپوهنه يې د ژبې د تدريس او د تدريس د نورو هغو موضوعاتو لکه: د ژبې ګرامر، املا او انشا، متونو او نورو لپاره برابروي ترې ګټه اخلي. «(کابل مجله، ۱۳۹۴: ٦ګڼه، ٦۱ مخ) د تطبيقي ژبپوهنې په اړه ډاکټر اورمړ داسې ليکي: »د ژبنيو مسايلو د حل او روښانه کولو لپاره د ژبپوهنې په اړه د نظريو، ميتودونو او موندنو له کارولو څخه عبارت ده چې په نورو تجربي حوزو کې ايجاد شوي دي. د تطبيقي ژبپوهنې قلمرو ډېر پراخ دی او د بهرنيو ژبو له زده کولو او ور زده کولو، د ژبې د تدريس په ساحه کې د اړوندو موضوعاتو د تدريس لکه د ژبې ګرامر، املا، انشا، متونو او نورو څخه استفاده کوي، همدارنګه ژبني اختلالات، ژباړه او تفسير، فرهنګ ليکنه، سبک پېژندنه، د وينا تحليل او د لوستلو ميتود په ځان کې رانغاړي. تطبيقي ژبپوهنه په نظري ژبپوهنه باندې ولاړه ده او د ژبې له نظري مطالعاتو څخه پرته منځ ته نه شي راتللای. «(کابل مجله، ۱۳۹۱: ۲-۱ګڼه، ۹۷ مخ)

د ډاکټر اورمړ په نظر کې يوه برخه د غور وړ ده چې تطبيقي ژبپوهنه له نظري مطالعاتو څخه پرته منځته نه شي راتللای. نو ويلای شو چې د تطبيقي ژبپوهنې د استفادې لپاره بايد نظري ژبپوهنه موجوده وي. تطبيقي ژبپوهنه ګڼې ځانګې لري چې يوه له هغو څخه جغرافيايي ژبپوهنه ده او دلته به پرې نور بحث وکوو.

جغرافيايي ژبپوهنه هغه ځانګه ده چې د ژبو، لهجو، او ژبنيو ځانګړتياوو جغرافيايي وېش، پراخوالی او بدلونونه څېړي. دا څېړنه د دې لپاره مهمه ده چې ژبه يوازې يو ذهني يا ټولنيز سيستم نه دی، بلکې دا يو فزيکي حضور هم لري، خلک ژبې د زمان او مکان په يوه ټاکلي مقطع کې کاروي، او دا کارونه له ځای سره تړاو لري. جغرافيايي ژبپوهنه هڅه کوي چې دا اړيکې وڅېړي، او وښيي چې ژبه څنګه د جغرافيايي چاپېريال له اغېزو، د خلکو له کډواليو، کلتوري تماسونو، سياسي سرحدونو او اقتصادي حالتونو سره بدلون کوي.

د جغرافيايي ژبپوهنې بنسټ د دې مشاهدې پر اساس دی چې د ژبې په کارونه کې سيمه ييز توپيرونه شته، او دا توپيرونه تصادفي نه دي، بلکې د يوې پراخې جغرافيې برخه وي. له همدې امله، ژبپوهان د ژبې د ځانګړتياوو د خپرېدو نقشې جوړوي. دا نقشې د »لهجوي اطلس «په نوم هم يادېږي، دا نقشې ښيي چې کوم ډول تلفظ، لغت، يا ګرامري جوړښت په کوم ځای کې رايج دی. د بېلګې په توګه، که د پښتو ژبې لهجې وڅېړو، نو ګورو چې د مشرقي لهجې خلک وايي "بخنه کوه"، خو د مرکزي ولاياتو ډېری خلکو ته دا جمله داسې ده: "ښښنه کوه"؛ د کندهار په ډېرو سيمو کې "بخشه کوه" ويل کېږي. دا ډول توپيرونه له يوه ځايه بل ځای ته په تدريجي ډول بدلېږي، او دا تدريجي بدلون له هماغې سيمې سره تړاو لري. ژبپوهان دا تدريجي پوله د "ايزولين" په نوم يادوي، چې مانا يې دا ده چې د ژبني بدلون يوه کرښه هم ناڅاپي نه وي ، بلکې ورو ورو او په تدريج سره بدلون راولي.

د جغرافيايي ژبپوهنې له لارې کولای شو دا درک کړو چې څنګه د يوې سيمې طبيعي شرايط، لکه غرونه، دښتې، سيندونه يا سرحدونه د ژبې پر پراخېدو يا تفرق تأثير لري. مثلاً د هغو قومونو ژبه چې په غرنيو سيمو کې اوسېږي، اکثراً د ښاري قومونو له ژبې سره توپير لري، ځکه چې فزيکي جلاوالی د کلتوري او ژبني تماس مخه نيسي. همداراز، د کډوالۍ له امله ژبني عناصر له يوې سيمې نه بلې ته انتقالېږي. که يو قوم له خپلې اصلي سيمې ونه وځي، نو ممکن لهجوي ښه يې په اوږد مهاله توګه باثباته پاتې شي، خو که کډه وکړي، نو هماغه لهجه هم بدلېږي يا له نورو لهجو سره ګډېږي.

»په انساني ژوند د چاپېرچل او جغرافيې زور اثر وي او ژبه د انساني ژوند يوه داسې مهمه اله ده چې په جغرافيايي عواملو اثر انداز کېږي او جغرافيايي عوامل په ژبه اثر انداز کېږي، ځکه چې د هرې سيمې او جغرافيې د اولس خپل خپل ضرورتونه او نفسيات وي، هم په دغه سوب د ژبپوهنې د ماهرانو په خيال تقريباً هر اته ميله پس په ژبه کې بدلون راځي، د هرې جغرافيې د خلکو خپلې خپلې روزمرې او متلونه وي، دغه شان د څه خاصو څيزونو او خاصو ځايونو په وجه يې لغتونه هم مختلف وي. «(يوسفزی، ۲۰۲۲: ٦٦ مخ)

دا خبره په بل ځای کې هم راغلې ده: »د ژبپوهنې ماهران وايي چې هر اته ميله پس ژبه بدلېږي او چېرته چې ژبه بدلېږي هلته کلچر کې هم بدلون راځي، د يوې ژبې په لغاتو، متلونو، فولکلور او ادب باندې د جغرافيې اثر هم وي. «(اکرام، ۲۰۱۸: ۹۱مخ)

ډاکټر اورمړ تر دې نظرياتو لږ پراخ غږېدلی دی: »جغرافيايي ژبپوهنه د ژبپوهنې هغه ځانګه ده چې په نړۍ کې د ژبو جغرافيايي وېش او د هغوی د سياسي، اقتصادي او فرهنګي وضعيت په پام کې نيولو سره مطالعه کوي او Geographical Linguistics هم ورته ويل کېږي. دا اصطلاح په خاصه معنا هغو پېښو ته کارول کېږي، چې د لهجو بنې يا د لهجو جغرافيا، د ښارونو په لهجو پورې اړوند مطالعات او انساني جغرافيا ته له ژبني او ټولنيز پلوه سره ربط ورکوي. د يوې ژبې د لهجې د ډول ډول اشکالو تغيرات او ورته والی د سيمو او جغرافيايي حوزو پر بنسټ په ټاکلو نقشو کې ثبتوي، دې ډول نقشو ته لهجوي اطلس ويل کېږي، دا ځانګه په لهجه پوهنه هم يادېږي. «(کابل مجله، ۱۳۹۱: ۲-۱ګڼه، ۱۰۰ مخ)

نو ويلای شو چې جغرافيايي ژبپوهنه يوازې د ژبنيو بڼو څېړنه نه ده، بلکې دا د ټولنيزو اړيکو، اقتصادي بدلونونو، تعليم، ديني تماسونو او سياسي واک د بدلونونو ژبنۍ اغېزې هم مطالعه کوي. دا ځانګه موږ ته دا درک راکوي چې ژبه يوازې يو ساه لرونکی نظام نه دی، بلکې د تاريخ، ټولنې، او طبيعت يو ګډ محصول دی. په همدې توګه، دا څېړنه د ژبو د ورکېدو يا له منځه تلو د درک لپاره هم ګټوره ده، ځکه چې ډېری ژبې له همدې امله له منځه ځي چې د يوه ځای خلک کډه کوي، يا نويو ژبنيو سلطو ته تسليمېږي. له همدې امله، جغرافيايي ژبپوهنه د ژبنيو اقليتونو د خونديتوب لپاره هم مهم رول لوبوي.

### مأخذونه

۱ـ لــودين، دولــت محمــــد. د عمـومي ژبپوهنې مســايل، ختيــــځ خپرندويه ټولنه: جـلال آباد، ۱۳۹۵ل.

۲ـ غوربندی، ميراجان. د ژبپوهنې مبادي، جهان دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹۷ل.

۳ـ اکرام، بشرى. ژبپوهنه، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون: پېښور، ۲۰۱۸ز.

۴ـ اورمړ، خليل الله. ژبپوهنه ، کابـــــــل مجله (۲-۱) ګڼه، د افغانستان د علـــــــومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو مرکز: کابل، ۱۳۹۱ل.

۵ـ نيازی، رفيع الله. ژبپوهنه او د هغې ځانګې، کابل مجله (٦ګڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو مرکز: کابل، ۱۳۹۴ل.

٦ـ يوسفزی، سمندر. بنــــــيادي ژبپوهنه، اعراف پرنټرز: پېښور، ۲۰۲۲ز.

## د پوهاند ناګار له یوه...

خان ختک په یو بیت باندې (د خوشحال یو بیت) اثر ولیکه، نو بیا هغه کار د دې تیوري پر بنسټ بشپړ تر سره شوی دی. په دې تیوري کې له یوې کلمې، یو بیت، یو نیم بیتي او یا هم په نثر کې له یوې جملې څو نورې جملې او یا یو لوی فکر زیږي، دا زیږېدنه د فزیکي او جسمي برعکس معنوي ده. دغه معنوي زیږېدنه د عرفان او تصوف له معنوي تولد سره توپیر لري، دلته د مفهوم زیږون دی، د مانا زیږون دی، چې د ډېرې مطالعې په وسیله دغه کړنه تر سره کېږي.

دغه نظریه په غیر اختیاري ډول د ځینو لیکوال په افکارو کې لیدل کېږي، چې ښه بېلګه یې د خوشحال دستار نامه ده چې د غرب او د رېنسانس له دورې ډېر مخکې لیکل شوی دی، خو په علمي او مېتودیک ډول په وروستیو کې پرې بحثونه شوي دي.

د غرب په ادبیاتو کې له نورو پوهانو پرته د فرانسس بېکن نثرونه دا برخه ډېره لري، د ده په نثري پنځونو کې کله کله الفاظ او کله هم له یوې جملې څو نورې جملې را زیږي او آن تر دې چې اثار پرې لیکل کېدلای شي .

زما د خپلې مطالعې پر بنسټ د عمر خیام رباعیات، د عطار منطق الطیر، د مولانا مثنوي معنوي، د خوشحال خان ځینې شعرونه، د غني خان د افکارو ځینې ښکلاییز فلسفي بیتونه، د علامه اقبال اسرار خودي او رموز بې خودي ځینې بیتونه، د حمزه، پسرلي او د ناګار صاحب په شعرونو کې دغه نظریه تطبیقېدلای شي. دغه ځانګړنه د هغو لیکوالو او پوهانو په شعرونو او افکارو کې لیدل کېږي، چې ډېره مطالعه لري او د تخصصي زده کړو پرته د هرې برخې د مطالعې سره یې مینه وي.

اوس به د ناګار هغه بیت راړوم، چې ځینې کلمې یې تحلیل او شننې ته اړتیا لري او په حقیقت کې د همدغو کلمو شننه له یو بیت څخه حمل کوي:

مرتبه یې چې د لامکان د راز ده
پیلامه چې د أنجام او د اغاز ده شملې (۲)

پورتني بیت کې د (لامکان) څخه په تصوفي او عرفاني شاعري کې موخه د معراج واقعې ته اشاره ده او د (راز) کلمې څخه موخه د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم تر منځ د راز او نیاز خبرې دي، چې ډېر اوږد بحث ته اړتیا لري چې کتابونه پرې لیکل کېدلای شي. په دویم نیم بیتي کې د انجام او اغاز یادونه شوې ده. د اضدادو په فلسفه کې د متقابلو شیانو یادونه کېږي، چې بېلګه یې پورته بیت کې (انجام او اغاز) دی .

د انجام او اغاز موضوع په حقیقت کې د مرګ او ژوند موضوع ده چې له اغاز څخه موخه نوی پیدایښت او ژوندون دی او أنجام مرګ دی. د اغاز او انجام»ژوند او مرګ «په فلسفه کې مرګ د اصلي ژوند پیل دی او یو بل پړاو دی. د دې نظریې ځینې پلویان په دې اند دي، چې د انسان ژوند یې مرګ دی، ځکه چې ډېر انسانان په ژوند کې اسلامي او انساني سرغړونې کوي، نو ورځ تر بلې یې د اخرت بار درندېږي، نو له داسې ژوند څخه مرګ غوره دی، خو د یوې خبرې یادونه اړینه ده، چې نه هر ژوند مرګ دی او نه د هر انسان مرګ د ژوند یو بل پړاو دی.

د مرګ او ژوند بحث له کلونو کلونو را پاتې موضوع ده، چې د زربېلګو »ارکي ټایپونو «په ډول له یو نسل څخه بل نسل ته پاتې دی. د یونګ د نظریې له مخې دا هغه زړې بېلګې دي، چې د نړۍ انسانان یې په اړه اندېښنه کوي. په تحریري لاس ته راغلو ادبیاتو کې د بین النهرین لومړنۍ حماسه کې ګلګمېش د مرګ څخه تېښته کوي او د تلپاتې ژوند په هیله وي. کله چې خپل نیکه اوت نا پیشتم ته ځي، هغه ورته هم د دې خبرې یادونه کوي، چې تلپاتې ژوند نشته. د انکیدو لــــــــه مرګ څخه وروسته پوهېږي، چې دی به هم د مرګ خوند ګوري. د تلپاتې ژوند په هیله د نړۍ انسانان دي، چې ښه بېلګه یې د نړۍ په لیکنو کې د خضر د اب حیات یادونه ده.

د مرګ او ژوند په فلسفه کې بېلابېل ادیان، پوهان او لیکوال خپل نظریات او افکار لري، ځینې ادیان په دې اند دي، چې د انسان مرګ یې نابودي او نیستي نه ده، مرګ د دویم او اصلي ژوند د پیل پړاو دی. مرګ هستي ده، تلپاتې ژوند دی او خپلو موخو ته رسېدل دي. په حقیقت کې مرګ له یو مکان څخه بل مکان ته نقل مکان دی.

(د متقابلو شیانو یادونه په ډېرو اثارو کې مخې ته راځي، لکه په ځانځاني ښامار کې مرګ او ژوند، ښامار مري او ژوندی کېږي، ځمکه شاړېږي او بېرته زرغونېږي، رڼا او تیاره، اهـــــــریمن او اهورا، اور او اوبه، ځمکه او اسمان، روغتیا او ناروغي، د محبت الهه او ایګو، وچوبه او شېرازي، هدیره او میخانه او داسې نور.) (۳)

د مسیحیت ځینې فرقې په دې اند دي، چې له مرګ څخه وروسته مړی را ژوندی کېږي، دوی له مړو سره په قبرونو کې خوراکي توکي ږدي، چې کله مړی ژوندی شي وږی به وي او له له خوړو به ګټه واخلي.

د فیثاغورث په فلسفي او ریاضیکي مکتب کې د دوه ګونو شمېرو یادونه شوې ده او هر عدد خپل ماهیت او مانا لري. لــــــــه دې مکتب څخه وروسته ارسطو او نیو افلاطونیزم، اخوان الصفا او حروفیه ډلې د هرې شمېرې یادونه وکړه، چې په دې کې دوه خپل ماهیت لري چې مرګ او ژوند هم د دوه عدد تر مفهوم لاندې راځي.

د ژوند او مرګ د فلسفې په بیان کې انجام او اغاز، هست و نست او بودي و نابودي متقابلې کلمې دي. د ژوند سره مرګ تړلی دی. د ژوند سره، رڼا او تیاره، ګل او اغزي شته. د انسان مرګ یې د زېږېدلو د لومړۍ ورځې سره یو ځای پیدا کېږي او هر ساکښ به یوه ورځ له مینځه ځي او مړ کېږي.

ځینې خلک وایي، کاشکې ځواني وای! دوی داسې فکر کوي، چې زړښت د ځوانۍ پای دی، مرګ ته نږدې کېدل دي، بیا هم دوی فکر کوي، چې مرګ نابودي او نست کېدل دي، چې حقیقت داسې نه ده، مرګ هستي ده، نوی ژوند دی او حقیقت ته رسېدل دي.

فردوسي د ژوند له بېوفایي دا پایله لاس ته راوړي، چې که مرګ نه وای، نو په نړۍ کې به انسانان نه ځایېدل، د زیست او روزګار ستونزې به یې درلودې او د ډېرو ستونزو سره به مخامخ وو. پوښتنه دا ده چې ټول مسلمانان په دې عقیده او باور دي، چې له مرګ څخه وروسته ژوند شته، تلپاتې ژوند امکان نه لري او د نړۍ د ټولو انسانانو په ډول به یوه نه یوه ورځ مړه کېږو، خو څومره انسانان له مرګ څخه وروسته ژوند ته اندېښنه لري او ورته تیاری کوي. څه چې اسلام او انسانیت وایي، څومره یې په خپل ژوند کې پلي کوو. همدارنګه پوهاند ناګار د اقبال په ستاینه کې یو شعر لري، چې د یو نیم بیتي حمل یې په لاندې ډول دی:

د خودۍ بله لمبه وه، شاو خوا ځمکه یې سره کړه (۱)

پورتنی نیم بیتی د یو شعر دی چې د پرګننټ د نظریې پر بنسټ تفسیر او تشریح ته اړتیا لري.په پورته نیم بیتي کې »خودي «د اسلام له اړخه څېړنې ته اړتیا لري. په اسلام او ارواپوهنه کې خودشناسي دوه بېلابېلې لارې لري او جلا موضوعګانې دي، چې کله کله لوی لیکوال په دې مساله کې سهوه کېږي.

د بهاوالدین مجروح په ځانځاني ښامار کې »خودي «د ارواپوهنې له اړخه څېړنې ته اړتیا لري، خو د اقبال په شعرونو کې »خودي «د أمام غزالي د نظریې پر بنسټ څېړنې ته اړتیا لري.

د خـــــــــــودي مفهوم د ځان پېژندل دي: (چا چې ځان وپېژنده، په حقیقت کې یې الله تعالی وپېژنده) شرحه ده. د اقبال اسرار خودي او رموز بېخودي د ځان پېژندنې په تړاو مهم مسایل تر بحث لاندې نیسي. د اقبال په شعر کې خودي هغه شعور ته وایي، چې انسان پرې خپل ځان پېژني، ځان ته په اهمیت قایل دی، په ځان باور پیدا کوي او وروسته خپلې موخې ته د رسیدو احساس پیدا کوي. خودي یوه رڼا ده، خو په مادي رڼاګانو کې هیڅ داسې رڼا نشته، چې د دې مقابله وکړي. خودي یو ځواک دی، خو په مادي ځواکونو کې هیڅ داسې ځواک نشته، چې د خودۍ د ټکر وي. دا هغه نوراني قوت دی، چې په انسان او د دنیا په هر ځیز کې ښکاري. په ځان پېژندنه کې په باطن ډېر ټینګار کېږي، د انسان ظاهر یې کالبد دی، دې ته ډانچه وایي، رحمان بابا وایي(بت که جوړ کړې د سرو زرو انسان نه دی)، انسان د ګنده او بد بویه ختې جوړ دی، روح یې ارزښت لري، روح چې جوړ شو، په ټول بدن ښه مشري کوي. ظاهر په سترګو ښکاري او باطن په ظاهري سترګو نه ښکاري، بلکې باطني بینایي غواړي، زړه د باطني بیایي اصلي محور دی، د زړه پوسیله د انسان باطن جوړیدلای شي. یو د زړه ساختمان دی یا هغه جوړښت دی، چې په سترګو ښکاری او بل د زړه باطن دی، زړه د نړۍ ټول انسانان لري، خو د هر چا د زړه باطن جوړ نه وي او یا زړه خو حیوانات هم لري، چې په سترګو ښکاري، خو د انسان له زړه سره یې توپیر په باطن کې دی.

غزالي وایي: (د انسان ټول بهرنی او دننی جوړښت د یو هېواد حیثیت لري، زړه د هېواد پاچا دی، په ټول هېواد مشري کوي، ښه او پیاوړی پاچا ښه مشري کوي او خراب او بې علمه پاچا به په خپلو کارونوکې ناکامه وي. فکر، عقل او دماغ د همدې هېواد د لومړي وزیر دنده په غاړه لري، د پاچا ټولې خبرې مني او بیا یې د هېواد نورو لوړ پوړو چارواکو ته وړاندې کوي، که پاچا سم هدایت وکړ، نو د وزیر لخوا هم سمه لارښوونه د لاس لاندې چارواکو ته کېږي.) (۴)

د هېواد نور ټول کار کوونکي د بدن عضوې/ غړي دي، لکه لاسونه، پښې، سترګې، غوږونه، پوزه او داسې نور، که په لاسونو د خیر او یا د شر کارونه کوو، لارښوونه یې له زړه څخه کېږي، که په پښو د جومات پر ځای خرابو ځایونو ته ځو بیا هم امر یې له زړه کېږي، که په سترګو ګناه کوو، په غوږونو غیبت اورو او د داسې نورو کړنو لارښوونه له زړه څخه کېږي، ښه زړه د ښه او پرمختللي هېواد استازیتوب کوي او خراب زړه د خراب هېواد استازیتوب کوي. عبثیاتو زړه ته دام اینبی وي، چې په خپل نیرنګ کې یې ونیسي، هغه زړه چې د کار نه وي ډېر ژر په عبثیاتو اخته کېږي او هغه چې په معرفت د الله نوراني وي، په داسې دامونو کې نه نیول کېږي. کله چې زړه غواړي اصلي او حقیقي ښکار وکړي، معرفت حاصلوي او بیا د ځان پېژندنې لپاره سمه لاره ښیي.

د انسان ظاهري پنځه حواس( غوږونه، سترګې، پزه، حس کول او ذایقه) او باطني حواس(تخیل، تفکر، حفظ، تذکر او توهم) د زړه تر فرمان لاندې دي، که زړه پیاوړی او ښه وي، نو دا ټول حواس سم کارونه کوي او که زړه ناسم وي، نو ناسم کارونه کوي. د چا چې زړه جوړ شو، نو د ځان پېژندلو په مفهوم پوهېږي او کولای شي، چې د بدن له ټولو غړو سمه ګټه واخلي. ننۍ ټولې ستونزې په دې کې دي، چې د ځان پېژندنې له مفهومه ښه خبر نه یو.

د نړۍ ټول انسانان بهرني او دنني رغښتونه لري، خو دا چې له دې رغښتونو څه ډول ګټه واخلي، په دې لړ خلک پوهېږي.لاسونه، پښې، سترګې، غوږونه، فکر، احساس، خیال، اخلاق او داسې نور داخلي او بهرني توکي ټول انسانان لري، خو د څومره کسانو زړونه جوړ دي، چې د ځان پېژندنې په مفهوم پوه وي او له خپلو ټولو غړو څخه سمه ګټه واخلي. د پوهاند ناګار ډېر شعرونه تفسیر او شرحې ته اړتیا لري، چې د بېلګې په ډول د یوې ځانګړې نظریې له مخې یې په یوه بیت لنډې خبرې وشوې.

**پایله**

د پوهاند ناګار شعرونه د نورو پیاوړو شاعرانو په ډول نوې خبرې لري او شعرونه یې تفسیرولو ته اړتیا لري. ننۍ څېړنې د نظریو له مخې تر سره کېږي. دې مقاله کې د شاعر د یوه بیت په تشریح کې په لامکان، راز، خودي، اغاز او انجام لنډې خبرې شوې دي. د پرګننټ د نظریې له مخې په دې هرې کلمې باندې ډېرې خبرې کېدلای شي او ان کتاب پرې لیکل کېدای شي. د دې مقالې لاسته راوړنه دا شوه، چې د ناګار په شعرونو کې ډېرې داسې کلمې شته، چې شرحې او توضیح ته اړتیا لري. د بېلګې په ډول یې دغه بیت تاسو ته په لنډ ډول وړاندې شو. له دې بیت څخه خرګندېږي، چې شاعر ښه مطالعه لري، شعرونه یې د ټولنیزو علومو له څو خواوو څخه څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري. د شاعر شعرونه د تصوفي او عرفاني نظریې له مخې، د سیاست، فلسفې، ټولنپوهنې، انتراپولوجي او د داسې نورو خواوو له مخې خبرو ته اړتیا لري. کله چې د یو چا شعرونه شرحه کوو، شرحه کوونکي لپاره اړینه ده، چې ډېره مطالعه ولري او د علومو له څو خواوو پرې خبرې وکړي.

**مأخذونه**

۱ـ ناګار، فضل ولي. دا هغه بالاحصار دی، ۱۲ مخ.
۲ـ ناګار، فضل ولي. هسکې ولونه ولونه، ۱ مخ.
۳ـ هاشمي، سید اصغر. ادبیات، انسان، خوبونه او ارکي ټایپونه، ۱۲۲ مخ.
۴ـ هاشمي، سید اصغر. د اقبال په شعرونو کې خودي، ۳٦ مخ.

## عاطفه د شعر ساه...

ښې لاس مې پروت و د سېنې په ژور زخم باندې
له مجبورۍ مې کېڼ لاس پورته کړ دعا ته خدایه

په دې بیت کې هم راسره شاعر خپله عاطفه چې د هغه له ذاتي تجربې څخه سرچینه اخلي شریکوي، نو بیا هم ترې همغه خوند اخلو چې شاعر ترې کوم خوند د لیکلو پرمهال اخیستی و، ځکه چې د شاعر عاطفه په دې بیت کې هم ریښتونې ده. په بیت کې "د سینې زخم، پر زخم لاس اېښودل، مجبوري، دعا، اوعاجزي" ټول عاطفوي حالتونه دي چې په مخاطب باندې اغیز کوي او له شاعر سره یې په دغه عاطفوي حالت کې شریکوي.

ویل کیږي هر هغه شی چا عاطفې ریښتونی کړ، که دروغ هم وي تاسې یې رښتیا وبولې.

د پښتو ژبې یو بل نوښتګر شاعر اومان نیازی وایي:

ملالو سترګو ته مې ډېر کتلي
زما له قبره به بانه ټوکیږي

که چېرته دغه بیت موږ د عقل او منطق په تله وتلو، نو کېدای شي خپل عقل راپورې وخاندي، ځکه چې عقل راسره دا نه مني چې په قبر دې د ښو پرځای بانه راشنه شي، خو بیا هم موږ له دغه بیت نه خوند اخلو، زموږ په حواسو ژوره اغیزه کوي، او دغه نوې خبره راته بابیزه نه ښکاري، د دې لامل بیا هم عاطفه ده، په دې بیت کې مبالغه ده او له مبالغې سره چې عاطفه مله نه شي نو هیڅ ډول اغیز نه شي کولی، په پورتني بیت کې د شاعر د ذاتي تجربي توکي، " ملالې سترګې، کتل، قبر، بانه او ټوکېدل" دي، شاعر خپله دغه ذاتي تجربه چې د ده په شعور کې ترسره شوې ده، له موږ سره شریکه کړې ده، او دغه مبالغه یې راباندې د خپلې عاطفې پرمټ منلې، په لومړي نیم بیت کې خوځښت او حرکت دی، د ملالو سترګو د اوریدو سره د سترګو ټول کیفیتونه زموږ د ذهن په هنداره انځورېږي، ورپسې د کتلو په فعل کې هم حرکت موجود دی، د ډېر قېد "کتلو" ته نور هم خوځښت ورکړی دی، ورپسې نیم بیت کې جمود ډېر دی او په جمود کې ناڅاپه داسې خوځښت رامنځ ته شوی دی لکه ترې چې په یوې سوې صحراکې په چینه واوړي، نو صحرا او د لمر سوځنده وړانګې ترې هېرې شي او یوازې په چینه بوخت شي، دلته هم په قبر باندې د ښو شنه کېدل همدغسې انځور جوړ کړی دی، د قبر په کلیمه کې درد، غربت، بیتلون پروت دی چې دا ټول د عاطفې ډولونه دي، چې د شاعر په ذات پورې تړاو لري، موږ په ورځنۍ محاوره کې وایو ختکی له ختکې نه رنګ اخلي ځکه چې یو بل ته نږدې دي، د همدغې محاورې پرمټ دغه تصویر انځور شوی دی، دا په غیر ارادي ډول شوی دی، د دوارو تصویرونو ترمنځ نږدې والی د سترګورو کره کتونکو کار دی، نو لومړی انځور مو منلی دی اودوهم راباندې د شاعر عاطفې په زور منلی دی.

عبد الحمید بابا وایي:

چاغوې مې قرباني لره پوهیږم
دا چې کړی دې په ما باندې زړه سوی دی

او یو بل ځای وایي:

د رقیب له لاسه ډک له غریو ناست وم
چې مې حال ووایه یاره ته ژړا راغله

په لومړی بیت کې حمید بابا راسره د خپل ژوند یوه تجربه شریکوي، حمید بابا چې په هیڅ حالت کې یې د خپلې معشوقې نه زړه سوی نه دی لیدلی، نو ځکه د خپلې معشوقې په زړه سوي باندې ورته شک پیدا کیږي او د خپلې خبرې د ثبوت له پاره په ټولنه کې پراته انځور ته لاس غځوي، چې دغه انځور سره موږ ټول اشنایي لرو او د مخاطب مخې ته یې ږدي، چې دا د شاعر ذاتي تجربه ده او دغه ذاتي تجربه راباندې "په قرباني پسه باندې د زړه سوی" په جمله مني، خو په بیت کې هیڅ ډول تخیل نشته دی.

په دوهم بیت کې هم د شاعر عاطفه ریښتونې ده، لیدلي به مو وي چې ماشوم له نورو ماشومانو سره جنګ وکړي،که ونه ژاړي او بیا دغه کیسه خپلې مور ته او یاهم د کور بل غړي ته کوی ورسره ژاړي، شاعر هم راسره دغه تجربه شریکه کړې ده او پر موږ یې اغیز کړی دی.

خو که چېرته شعر د عاطفې نه خالي وي، بیا بې روحه شي، هیڅ ډول خوځښت او حرکت نه لري، او چې خپله حرکت ونه لري نو د لوستونکي او اوریدونکي احساساتو او عاطفې ته به څه حرکت ورکړي، د پښتو ژبې د ځوان کهول خوږ ژبی شاعر سید جیلاني جیلان وایي:

د اینې د سپین ورغوي د پړک پیخې پسې
جلان ورک یارته د مین زړه مر غلره ترې

په دې بیت کې تخیلي انځورونه ښه ډېر دي، د اینې سپین ورغوی، تخیلي ترکیب دی، بیا د دغه ورغوي د پړک پیخه بل تخیلي انځور دی بیا په دغه پیخکه پسې ورک یار ته د خپل مین زړه د مرغلرې ترل بل انځور دی، خو پرموږ هیڅ ډول اغیز نه کوي.لومړی د تخیلي انځورونو ازدحام بیت بیخونده کړی دی، او په بیت کې هیڅ ډول عاطفه نشته، نو ځکه له دې بیت نه راته په دغه غزل کې دا بیت خوند راکوي:

په بنګالیو کوډو نشي دوزخ مخیه ! واوره
پېغله زمونږ کلیمه داره له ټېره ترې

په پورتني بیت کې له مخاطب نه کرکه په دوزخ مخې تعبیر شوې چې دا هم په خپل ذات کې سلبي عاطفه ده، په ټېر د کلیمه دارې ترل یو کلیوالي عاطفوي انځور مخ ته ږدي چې د کلیوالې پېغلې ټول ژوند په کې ګورو.

خو که چېرته په شعر کې تخیل او عاطفه ځنګ په ځنګ روان وي نو دغسې شعر په پیړیو ژوند کولی شي، او موږ ترې خوند هم اخیستلی شو د بېلګې په ډول به د کاروان څو بیتونه راوړو:

څه ګورم د ګل پښو ته پرته رامه نجلۍ وه
دا بې شرمه لوڅه ښه پوره خامه نجلۍ وه
خټ خټ په خندا او مسته بې جامه نجلۍ وه
سپینه راپړبوتې له شینکي بامه نجلۍ وه
ورغلم نجلۍ نه د رڼو اوبوچینه وه
ومې څښله یخه لکه زر ځله چینه ده

شاعر هڅه کړې چې موږ ته یخه او رڼه چینه د خیالي انځورونو پرمټ انځور کړي،"د ګل پښې" تخیلي ترکیب دی، ځکه چې د تخیل ترکیبي وجود شتون نه لري، خو په انفرادي ډول یې موندلی شو، د ګل پښې نشته، خو ګل شته دی او پښې هم شته،"رامه نجلۍ" عاطفوي ترکیب دی، له شینکي بام نه د جینۍ راغورځېدل هم عاطفوي انځور دی:

خدای دې له بامه راګوزار کړه
چې خره پره دې په غېږ کې ونیسمه

"په خټ خټ خندا، بې شرمه، لوڅه، خامه، بې جامه نجلۍ" ټول عاطفوي انځورونه دي،چې زموږ احساسات تخنوي،عاطفه مو راوېښوي او نېغ په نېغه راباندې اغیز کوي، کینه په خپل ذات کې عاطفوي کیفیت دی چې چینه ورسره تشبیه شوې ده او د بیتونو عاطفوي اړخ یې نور هم غښتلی کړی دی، په دې بیتونو کې د شاعر عاطفه ریښتونې ده ځکه چې موږ ته یې خپله ذاتي تجربه په شفاف ډول وړاندې کړې ده، په دې بیتونو کې عاطفه او تخیلي انځورونه اوګه په اوګه روان دي او داسې بیتونه د تاریخ په حافظه کې خوندي پاتې کیږي.

که موږ د خپلو پخوانیو شاعرانو شعرونه په غور وګورو، راته به جوته شي چې د کاظم خان شیدا په شعر کې ډېر ځله تخیل پرعاطفې لاسبری کیږي او د حمید بابا په شعر کې عاطفوي اړخ ډېر غښتلی دی، په معاصرو شاعرانو کې د پیرمحمد کاروان په شعرونو کې تخیلي اړخ پرعاطفوي اړخ کله ناکله لاسبری شي، خو د درویش دراني په شعرونو کې عاطفه په تخیل لاس برې ده. که په شعر کې د منطقي، تخیلي او عاطفوي اړخونو توازن ته پوره پاملرنه ونه شي نو شعر خپل شعریت د لاسه ورکوي او په مخاطب هیڅ ډول اغیز نه کوي. **پای**

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۴ ل.کال، د لړم میاشتې ۱۵-۱٦مه ګڼه | پرله پسې ۴۵۵-۴۵٦ مه ګڼه

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډیزاین:** دوکتور خاورین

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
څېړنیز ارګان

**د اړیکې شمېرې:** (780831960) (0) (+93)
(202201279) (0) (+93)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ




ل: ابوالاعجاز ح صدیقي

ژباړه او زیاتونه: جاوید افتاب

# تخلص

## (Pseudonym / Pen Name)

تخلص هغه لنډ او مختصر نوم دی چې شاعرانو په شعر کې د کارونې لپاره ټاکلی دی. مولانا اصغر علي روحي او نور پوهان د دبیر عجم پر دې قول متفق دي چې تخلص د ایران د شاعرانو اختراع ده، اهل عرب له دې سره آشنا نه ول، عرب شاعرانو د تخلص پر ځای په شعر کې په خپل لقب یا کُنیت شهرت تر لاسه کاوه.

ښاغلی سعید نفیسي وایي، که څه د رودکي په اسلافو او معاصرینو کې یې ځینو تخلص اختیار کړی و، رودکی لومړنی شاعر دی چې له تخلص سره مشهور شو.

اردو، ترکي او پنجابي ادب ته د تخلص ورتګ د فارسي ادب اغېز دی. په غربي ژبو کې د ادبي یا قلمي نوم دود دی، خو دې ته تخلص نه ویل کېږي؛ ځکه چې د تخلص مقصد دا دی چې په شعر کې استعمال شي. یعنې له دې پلوه تخلص هغه مهر دی چې شاعر یې پر کلام لګوي چې د هغه کلام یا مال جلا وپېژندل شي. د تخلص د دود تر شا د انفرادیت څرک هم څرګند لیدل کېږي.

د تخلص لغوي معنا خلاصول یا خوشې کول دي، (ځان له یو شي خلاصول، په شعر کې د خپل اصلي نوم پر ځای پر یو بل نوم کارولو سره ځان خلاصول). په پخوانو لیکنو کې تخلص د ګرېز (تېښته یا پرهیز) یا مخلص مترادف و چې اصطلاحي معنا یې داسې ده چې د قصیدې تشبیب په لیکلو سره د ممدوح یادونه داسې کول چې له خبرې نه خبره پیدا شي. اوس پوښتنه دا ده چې د تلخص لومړنی اصطلاحي معنا څنګه بدله شوه؟ او اوسنی اصطلاحي معنا یې څنګه خپله کړه؟ د سید عبدالله قیاس دی چې:

"د تخلص لومړنی اصطلاحي معنا له تشبیب نه د مدح په لور راوتل دي. د پخوانو شاعرانو په قصیدو کې معمولاً دا لیدل شوي دي چې هغوی په تخلص یعنې ګرېز کې د خپل ممدوح نوم یا لقب راوړه. (التزاماً نه، عموماً) له دې وروسته ورو - ورو په تخلص یا ګرېز کې د مادح او ممدوح (ستایونکی او ستایل شوی) دواړو نومونه راوړل کېدل. د غزل په وروستي بیت کې د تخلص راوړلو علت هم همدا دی، ځکه عموماً د تشبیب په اخر کې تخلص یا شاعرانه نوم راړول کېږي، په دې خاطر کله چې غزل جلا صنف وپېژندل شو، نو د تخلص دود یې هم ځان سره راوړ. په مقطع کې د تخلص راوړل د همدې پخواني دود یادګار دی." [د معاصر دور ځینو شاعرانو په مطلع کې هم تخلص راوړی او اروښاد صاحب شاه صابر خو د خپل یوه غزل په مطلع او مقطع دواړو کې خپل تخلص یاد کړی دی. صابر په دې غزل کې قافیه هم بدله کړې چې دلته د نمونې په توګه یوازې مطلع او مقطع لیکم:

> ده زړه د درده لېونی شوی که نه
> زما صابره! ته سړی شوی که نه
>
> د بڼو سیوري ته مې کېنولې
> صابره! سترګې دې مړې شوې که نه]
> (۲: ۱۵۹)

د ډاکټر سید عبدالله د څېړنې مطابق د تخلص دود په رامنځته کېدو سره بیا هم شاعران په خپلو کلامونو کې تخلص کم کاروي، لکه رودکي اته، فرخي دولس، عنصري درې - څلور او منوچهري څلور - پنځه ځایه په خپلو شعرونو یا نظمونو کې خپل - خپل تخلصونه راوړي دي. مسعود سعد سلمان د خپلو پخوانو په نسبت تخلص ډېر کارولی دی، د سنايي او عطار په وخت کې د تخلص کارول عام وو، له دې وروسته د غزل په مقطع کې د تخلص راوړل عام شوی دی. عراقي، سعدي او نور دې ته ژمن پاتې کېږي، حتا په فارسي، اردو، پښتو او ترکي شاعرۍ کې دې دود یو ډول د قانون بڼه اختیار کړې ده.

> تخلص په عمومي توګه یو نه یو مناسبت ته غوره کېږي او کوښښ کېږي چې تخلص لنډ وي چې په شعر کې په اسانۍ سره ځای شي، په ویلو کې درونډ او سخت نه وي. ځینې وخت شاعر د خپل نوم یوه برخه تخلص ته ځانګړې کوي، لکه اقبال، حمزه، قلندر او نور.


### مأخذونه

۱. صدیقي، ابوالاعجاز حفیظ. کشاف تنقیدي اصطلاحات، دویم چاپ، اداره فروغ قومی زبان: اسلام اباد، ۲۰۱۸م.
۲. صابر، صاحب شاه. د صابر کلیات، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۲ل.


★★★★★★

څېړندوی شوکت الله عمر

# کلتور پېژندنه

### د کلتور لغوي پېژندنه

کلتور یوه غربي کلمه ده چې په انګریزي کې ورته (کلچر) وایي او په فرانسوي ژبه کې هم په همدې مانا کارول کېږي، په عربي کې ورته ثقافت او په دري ژبه کې ورته د فرهنګ کلمه استعمالېږي؛ په پښتو او دري ژبو کې هم د کلتور کلمه دود ده چې زمونږ د لغتونو د ذخیرې برخه ګرځېدلې ده.

کلتور چې په انګریزي ژبه کې کلچر تلفظ کېږي او ریښه یې د لاتیني کلمې (کلتورا) څخه ده چې د کولیر له فعل څخه اخیستل شوې چې معنا یې کرهنه، یوې کول او لاربښوونه ده.( غني، ۱۳۹۳ل، ۱مخ)

همدارنګه په بېلابېلو کتابونو او قاموسونو کې د کلتور په اړه تر لسو زیاتې معناوې راغلي چې تر ټولو مهم یې کرهنه، روزنه، پوهنه، پرمختیا او وده، تهذیب، دود، رواج او داسې نورې دي.

په ځینو اثارو کې د کلتور اصطلاح د تمدن په یوه ټولنه کې د کړو وړو څرنګوالي سره مترادفه استعمال شوې ده چې د انسان د ټولنیز ژوند لوړې او پرمختللې برخې لکه: دیني، فلسفي، شعر او ادب، موسیقي، نقاشي او مجسمه جوړول په کې شامل دي، د کلتور (کلچر) کلمه په ژوندپوهنه (بیولوژي) کې د میکروبونو یا ژوندیو حجرو او نسجونو د روزنې په معنا په علمي څېړنو او تجربو او یا د درمل په کارولو کې استعمالېږي.

همدارنګه د فرهنګ کلمه په دري ژبو کې د عربي ژبې د ثقافت او انګریزي ژبې د کلتور سره مترادفه راغلې ده او ویل کېږي چې د فرهنګ کلمه د (فر) د مختاړي او (هنګ) د ریښې د وروستاړي څخه ترکیب شوې ده چې معنا یې روزل، جذبول او پرتله کول دي، یاده کلمه د دري ژبو په قاموسونو کې د پوهنې، ادب، عقل، لویوالي، پرتله کولو، د لغاتو د کتاب، د اوبو د کاریز او د ونې هغې ښاخګې ته چې په ځمکه کې خملول شوې او په بل ځای کې را ټوکېدلې وي په معناوو راغلې ده.

په نولسمه پېړۍ کې په انسانپوهنه او نورو ټولنیزو علومو لکه: ټولنپوهنه (سوسیولوژي)، ساپوهنه (سایکالوژي) او نورو پوهنو کې دود شوه. (حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۲مخ)

### د کلتور اصطلاحي پېژندنه

د کلتور اصطلاح په بېلابېلو طبعي او ټولنیزو پوهنو کې بېلابېل مفاهم او د استعمال ځایونه لري که څه هم د کلتور د پېژندنې په هکله د نړۍ ټولنپوهان په یوه نظر نه دي او په دې اړه هریو بېل بېل نظرونه لري، خو بیا هم په ټولیز ډول په انسانپوهنه، ټولنپوهنه او ټولنیزو پوهنو کې د انسان د ژوندانه په ټولنیز طرز او د ټولنې پر ټولو مادي او معنوي او اکتسابي موجوداتو باندې دلالت کوي، د حیواناتو په نړۍ کې یوازې انسان د جسماني او ذهني اوښتون په بهیر کې د کلتور په رامینځ ته کېدو بریالی شوی دی، خو کلتور نه کوم بیولوژیکي او فطري شی دی او نه کوم انفرادي محصول دی بلکې کلتور یو اکتسابي او ټولنیزه پدیده ده چې د ټولنې له خوا جوړېږي او عمل پرې کېږي.

کلتور په یو انګریزي قاموس کې په دې ډول را پېژندل شوی دی.

کلتور د انساني ژوندانه د دود او دستور ټوله مجموعه ده چې د انسانانو یوه ډله پرې عمل کوي او له یو نسل نه بل نسل ته پاتې کېږي.

د عربي نړۍ په کتابونو کې د کلتور اصطلاح د (تمدن) او (مدنیت) د اصطلاح سره په مترادف ډول استعمال شوې ده چې د انسان د ټولنیز ژوند او د لوړو او پرمختللو اړخونو او ښېګڼو، لکه: دین، فلسفه، شعراو ادب، موسیقي، نقاشي، مجسمه سازي او نورو لپاره کاروي.

په (۱۹۴۰م) کال کې لنتون کلتور داسې تعریف کړی:

کلتور د فکري کړنو هغه ټولګه ده چې د یوې ځانګړې ټولنې د غړو په وسیله د یو نسل نه بل نسل ته لېږدول کېږي او د ټولنې د غړو ترمینځ شریک وي.

په (۱۸۴۵) م کال کې کلوکون یو انګلیسي پوه په دې ډول سره تعریف کړی:

کلتور د ژوندانه ټول پټې او ښکاره معقولې لارې چارې دي چې هره ټاکلې زمانه کې موجودې وي او د پټې قوې په توګه د انسان د کړو وړو لارښوونه کوي.

په (۱۹۴۸) م کال کې کرویبر کلتور په دې ډول را پېژندلی دی:

کلتور، ژبه، پوهنه، عقیدې، دودونه، هنرونه، تخنیکونه، مفکورې او قوانین په خپله لمنه کې رانغاړي.

نومورې په یوه بل ځای کې د کلتور په اړه داسې څرګندونې کړې دي:

کلتور د ټولنیزو عنعنو او میراثونو ټولګه ده.

د کلتور په تړاو په (۱۹۵۰) م کال کې هرسکوویتس داسې نظر لري:

کلتور د چاپېریال هغه برخه ده چې انسان جوړه کړې وي.

کېنګ په (۱۹۵۸) م کال کې داسې تعریف کړی دی:

په اکتسابي او ټولنیز ډول د نقل کېدونکي سلوک مجموعه یا دود او دستور دی.

ارواښاد وزیر محمد ګل خان مومند د کلتور لپاره د هڅوب کلمه کارولې هغه څه چې ولسونه یې بلوي کلمه وضع کړې ده.

همدارنګه احسان طبري کلتور داسې تعریفوي: د معنوي او مادي پرمختګ په بهیر کې د یوې ټولنې د لاسته راوړنو مجموعې ته فرهنګ یا کلتور وایي.

کلتور هغه ټولنیز انساني میراث دی چې د هغې په وسیله د انسان توپیر د نورو ژویو سره کېږي. (غني، ۱۳۹۳ل، بېلابېل مخونه)

د کلتور د پېژندنې په برخه کې د امریکا د تکزاس پوهنتون یو ټول منلی تعریف په لاندې ډول وړاندې کړی دی، ژباړه: د کلتورد خلکو د یوې ډلې هغه لاره ده چې کړنې، باورونه، ارزښتونه او سمبولونه له فکر کولو پرته منې او د اړیکو او تقلید له لارې له یو نسل څخه بل نسل ته لېږدوي.


### مأخذونه

۱. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ. دانش خپرندویه ټولنه: پېښور.۱۳۸۴ل.
۲. غني، سید غني. د افغانستان کلتور تاریخ (تدرسي چپتر). ننګرهار پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه. ۱۳۹۳ل.
۳. https://people.tamu.edu/~i-choudhury/culture.html


★★★★★★

څېړنوال رحیم الله حریفال

# سپرلی د بدلون نخښه

د خزان تر سیلیو وروسته طبیعت د ژمي سپینې واورې وپوښي، په واورین موسم کې یوه له سکون نه ډکه چوپتیا انساني فطرت په خپله غېږ کې اخلي. په واورینه تروږمۍ کې، چې واورې ونو ته سپین پوړني ور په سر کړي، په ژمني یخ موسم کې تر ډېره ژوند هم یو ډول نه یو ډول د سکون حالت او شېبو ته ورګرځي او نسبتا ولاړ حالت خپلوي، د حرکت او خوځون لپاره زمینه زیاته نه وي مساعده، د الله ج مخلوقات، کاینات او هر موسم یو ځانګړې خوند او بېلې غوښتنې لري.

> هو سپرلی د کال زلمی، له شور او طبیعي مستۍ نه ډک موسم دی، کله چې د سپرلي بادونه له ژمني خوبه د ونو او بوټو د راویښولو لپاره را والوزي، په خپلو یخو او خوندورو څپو د ژمي په پر سکونه چوپتیا کې ویده ښېترونه، دنګ چنارونه، ونې او بوټې د یوه نوي ژوند او نوي دور لپاره په مهینو وږمو بیدار کړي او د بهار په راتګ سره کنګل ځمکه خپله غېږ د رنګارنګ بوټو او ګلانو لپاره پرانیزي، نو که موږ لږ ځیر شوو او د سپرلي شهکارو بدلونونو او تغییراتو ته پام وکړو، زموږ لپاره هم د ستر بدلون پیغام له ځان سره لري.

کله، چې د انسان شاو خوا چاپیریال ټول د تغییراتو یوه تابلو وګرځي، دلته په طبیعي توګه انسان هم د بدلون قدم اوچتوي، خو که دا بدلون منظم او شعوري نه وي، انساني او بشري ژوند ته به ډېره ګټه ونه رسوي، هره ورځ او هر موسم له ځان سره د ژوند، پرمختګ او وړاندې تګ پیغامونه لېږدوي، د سپرلي په راتګ سره د انسان د ژوند یو کال تېرېږي او د ژوند یو نوی پړاو پیلوي، دا پړاو هله پیلېږي، چې په طبیعت او چاپیریال کې له وړایه بدلون او تغییر تر سترګو کېږي، نو که غواړو، چې په خپل راتلونکي ژوند کې لاسته راوړنې ولرو، مثبت لوري ته ولاړ شو، په کار ده، چې د سپرلي په راتګ سره ځینې موضوعاتو او نقطو ته تم شو، له فکر او غور سره د ژوند او عمر دې نوي پړاو ته ور داخل شوو.

پای


ZERAI
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (Ph.D)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

**Compose & Layout Design:**
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature, Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af/ zerai1316@gmail.com